


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نیټه : ۱۲دسمبر ۲۰۱۳ میلادی

# ولــــــــــی ولی ولی ؟؟؟؟؟

دا ځمــــــکه ولی سره ده ؟ دا غرونه ولی سره دی ؟
ویاله کی سری اوبه دی کورونه ولـــــــی سره دی ؟
جامی او مخ دی سور دی ویختان دی هم سره شوی
دا څــــــــــه خبره شوی ؟ لاسونه ولی سره دی ؟

ژړا ده واویلا ده خنــــــــدا وینــــــــم چی تبنتی
موسکا څه شوه یارانو ؟ مخونه ولـــــــــی سره دی ؟
لذت دی د وژنی. دلتـــــه ژوند سخت بـــــی بها دی
نفرت ولی یو بل ته ؟ دا زړونه ولـــــــــی سره دی ؟

دا وینی دی چـــــــــی سری دی تویږی نه دریږی
اوس پوه شومه ، دخلـــــکو ګامونه ولـــــی سره دی ؟
"محبه" پام دی ساته. له دی ملــــــــک نه عقل تللی
ته څنګه نه پوهیــــــږی؟ زندانونه ولـــــی سره دی ؟

****

*محب الرحمن « خطيبي »*

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org